Cour Pénale Internationale

International Criminal Court

نړیواله جنايي محکمه

# پوښـــــتنې او ځـــوابونه

۵ مارچ ۲۰۲۰

## د افغانســــتان د اســــلامی جمـــهوريت "وضــعيت"

## افغانستان: د نړیوالي جنايي محکمې د استيناف قضايي هيئت د پلټنې د پيل اجازه ورکړه

### نړيواله جنايي محکمه څه ده؟

نړيواله جنايي محکمه ("آی سي سي" يا "محکمه") يوه دايمي نړيواله محکمه ده او په دې موخه تأسيس شويده تر څو هغه افراد قانوني تعقيب او محاکمه کړي چې په داسې درنو جنايتونو تورن شوي وي کوم چې د نړيوالې ټولنې د انديښنې وړ دي، لکه د نسل وژنې جنايت، د بشر ضد جنايتونه، جګړه ايز جنايتونه او د تيرې جنايت.

دا محکمه د ملي عدلي سيستم ځای نه نيسي؛ بلکه، بشپړوي يې. دا محکمه کولی شي پلټنې وکړي، او چيرې چې لازمه وي، يوازی هغه وخت کولی شي افراد قانوني تعقيب او محاکمه کړي چې اړوند هيواد دا کار نه کوي، يا يې نشي کولی يا هم په رښتوني توګه نه غواړي تر څو ترسره يې کړي. لکه پداسې حالاتو کې چې قضايي اجرائات په نامناسب ډول ځنډ شي يا داسې قصد وي تر څو افراد د هغوی له جنايي مسئوليت څخه وژغورل شي. دا د بشپړتيا د اصل په نوم ياديږي، چه پر اساس يې ملي عدلي سيستم لمړيتوب مومي. هيوادونه لمړنی مسئوليت لري تر څو د خورا درنو جنايتونو مرتکبين محاکمه کړي.

### د استيناف د قضايي هيئت قاضيانو د افغانستان اړوند څه پريکړه وکړه؟

په ۵ مارچ ۲۰۲۰، د نړيوالې جنايي محکمې د استيناف قضايي هيئت د رايو په موافقت سره پريکړه وکړه تر څو څارنوال ته اجازه ورکړي چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت اړوند د اِدعا شوو جنايتونو په هکله چې د محکمې تر قضايي واک لاندې دي پلټنه پيل کړي.

د استيناف هيئت ومونډل چې څارنوال اجازه لري تر څو د هغه حدودو په چوکاټ کې پلټنه پيل کړي چې د ۲۰ نومبر ۲۰۱۷ نيټې د څارنوال په غوښتنه کې څرګند شوي دي، هغه اِدعا شوي جنايتونه چې د افغانستان په خاوره د ۱ مې ۲۰۰۳ راهيسې ترسره شوي دي، او همدا شان نور وَرته اِدعا شوي جنايتونه کوم چې په افغانستان کې د وسلوالي جګړې سره په کافی اندازه تړاو لري او د روم د تړون د غړو هيوادونو په خاوره د ۱ جولای ۲۰۰۲ راهيسې ترسره شوي دي.

### هغه قاضيان چې د استيناف په دغه هيئت کې شتون لري څوک دي؟

د استيناف دغه هيئت له نومړو قاضيانو څخه تشکيل شوی دی: د هيئت رئيس قاضي پيوتر هوفمنسکي، قاضي هوارد موريسن، قاضي لوز دِل کارمن ابانِز کارانزا، قاضي سولومي بالونګي بوسا او قاضي کيمبرلي پروست. د محکمې قاضيان د لوړ اخلاقي شخصيت، بې طرفی او صداقت خاوندان دي چې په خپلو هيوادونو کې په لوړو قضايي موقفونو د ټاکل کيدو لپاره د اړين لياقت درلودونکي دي. هر يو د محکمې د قضايي فعاليت اړوند پراخه تجربه لري. قاضيان د غړو هيوادونو د غونډې لخوا د جنايي قانون، اجرائاتو او د نړيوال قانون په اړونده برخو کې لکه نړيوال بشري قانون او د بشري حقونو د قانون په اړه د خپل مستند وړتوب پر بنسټ ټاکل کيږي.

### د استيناف قضايي هيئت ولې پريکړه وکړه ترڅو د پلټنې د پيل اجازه ورکړي؟

کله چې د مقدماتي قضايي هيئت د پريکړې پر خلاف د څارنوال د استيناف غوښتنې پر دلائلو غور وشو، او هغه نظرونو او څرګندونو ته پام وشو چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت، د متضررينو د استازو او نورو ګډونوالو لخوا وړاندې شول، د استيناف هيئت ومونډل چې مقدماتي هيئت اشتباه کړيده چې د پلټنې د پيل لپاره يې د څارنوال د غوښتنليک د ارزونې په موخه "د عدالت د ګټې عنصر" په پام کې ونيو. د استيناف د هيئت په نظر، مقدماتي هيئت بايد يوازې دا کتلي وی چې آيا کافي واقعيتونه شته چې څارنوال يې پر اساس پلټنې پيل کړي، په داسې معنی چې آيا جنايتونه ترسره شوي، او يا هم ممکن داسې احتمالي قضيه يا قضيې شتون ولري چې د نوموړې پلټنې په ترڅ کې را برسيره شي چې د محکمې تر قضايي واک لاندې وي. هيئت ګوري چې د مقدماتي هيئت په پريکړه کې ټول لازمي واقعيتونه شامل دي او دا يې تاييد کړې چې معقول دلائل شتون لري چې ګواکې په افغانستان کې د نړيوالې جنايي محکمې تر واک لاندې جنايتونه ترسره شوي دي. نو له دې کبله، د دې پر ځای چې نوموړې قضيه د نوې پريکړې لپاره بيرته مقدماتي هيئت ته واستوي، د استيناف هيئت دا پريکړه وکړه چې هغوی خپله د پلټنې د پيل اجازه ورکړي.

### پلټنې به څرنګه تر سره شي؟

د څارنوال دفتر به د مختلفو کره، آزده، او بې طرفه سرچينو لخوا په بې پرې بڼه لازمي شواهد راغونډ کړي. پلټنې کيدی شي تر هغه پورې دوام ومومي چې په کار وي تر څو د اړتيا وړ شواهد راغونډ کړی شي. که چيرې کافي شواهد په دې باب راغونډ شول ترڅو تثبيت کړي چې ځانګړي افراد جنايي مسئوليت پر غاړه لري، څارنوال به بيا د مقدماتي هيئت له قاضيانو څخه وغواړي تر څو د هغوی د احضار يا توقيف امر ورکړي. د محکمې د قضايي هيئت لخوا د توقيف امر عملي کول د هيوادونو مسئوليت دی. د روم د تړون غړي هيوادونه قانوني مسئوليت لري تر څو د نړيوالې جنايي محکمې سره پوره همکاري وکړي. کيدی شي له نورو هيوادونو څخه هم غوښتنه وشي تر څو د محکمې سره همکاري وکړي او هغوی کولی شي دا همکاري په رضا کارانه ډول تر سره کړي.

دا يو رسمي سند ندی. هدف يې يوازې عامه معلومات دی. | ويبپاڼه: www.icc-cpi.int
د هالند په هاګ ښار کې د نړيوالې جنايي محکمې آدرس: Oude Waalsdorperweg 10, 2597 AK Den Haag, The Hague, The Netherlands
پوستي آدرس: Po Box 19519; 2500 CM, The Hague, The Netherlands
تلفون: ۰۰۳۱۰۷۰۵۱۵۸۵۱۵ فکس: ۰۰۳۱۷۰۵۱۵۸۵۵۵ يوټيوب: www.youtube.com/IntlCriminalCourt تويټر: www.twitter.com/IntlCrimCourt فلکر: www.flickr.com/photos/icc-cpi